# ایف سي آر

محسن جاوېد (پښتون سټوډنټس فیډرېشن)

د پاکستان په ټولو قبائلي سیمو کښې چې د کوم قانون د لاندې دیواني او فوجداري مقدمې فېصله کېږي هغې ته فرنټئیر کرائمز ریګولېشنز وائي. په 1848کښې چې کله انګرېزانو دا علاقه قبضه کړه نو د هغه وخت نه د دې قانون ابتدا وشوه. په 1873 او بیا په 1876 کښې په دې کښې ځنې ترمیمونه وشو او د ځنې نوو شعبو او ترمیمونو سره 1901 کښې د فرنټئیر کرائمز ریګولېشنز په نوم یو نوے قانون مخې ته راغے چې د پاکستان په قبائلي علاقو کښې تر ننه رائج دے.

په قبائلي علاقو کښې انتظامیې ته پولیټیکل ایجنټ او اسسټنټ پولیټیکل ایجنټ وئیلے شي. د پولیټیکل انتظامیې سره انتظامي، مالیاتي او عدالتي اختیارات وي. د ایف سي آر لاندې په فاټا کښې اسسټنټ پولیټیکل ایجنټ، تحصیلدار او نائب تحصیلدار ته د فرسټ کلاس، سېکنډ کلاس او تھرډ کلاس مجسټرېټانو اختیارات حاصل وي. دغسې پولیټیکل ایجنټ د ډسټرکټ مجسټرېټ اختیارات لري. د پولیټیکل ایجنټ د فېصلو خلاف قبائلي خلقو له د ایف سي آر کمشنر سره د اپیل حق ورکړے شوے دے. ایف سي آر کمشنر د قبائلو دپاره د هائي کورټ درجه لري. د هغهٔ د فېصلو خلاف قبائلي خلق ایف سي آر ټریبیونل ته اپیل کولے شي. ایف سي آر ټریبیونل په هوم سېکرټري او سېکرټري قانون مشتمل وي چې د قبائلو دپاره د سپریم کورټ درجه لري ځکه چې قبائلي اولس ته هائي کورټ او سپریم کورټ ته د اپیل کولو حق نشته. د ملک آئین د عوامو د بنیادي حقونو د تحفظ دپاره په هائي کورټ او سپریم کورټ کښې د اپیل کولو حق ورکوي ولې د آئین د آرټیکل (7)247 د لاندې قبائلي علاقې د دې اختیار نه بهر ساتلي شوي دي. په 2002 کښې د فاټا سېکرټریټ او ډویژنل کمشنرانو د ختمېدو نه پس د پولیټیکل ایجنټ اختیارات نور هم سېوا کړے شو او د وړومبې ګړېد نه تر ځوارلسم ګړېد پورې ملازمینو د برتې کولو او بدلولو رابدلولو اختیار د متعلقه محکمې د مشر په ځائے پولیټیکل ایجنټ ته ورکړے شو.

د دې ایف سي آر په ذریعه پولیټیکل ایجنټ له بې اندازې اختیارات ورکړي شوي دي. د ایف سي آر د اتمې دفعې د ذیلي دفعې نمبر ۱ لاندې په هره یوه مقدمه کښې د جرګې د نامزدګۍ اختیار پولیټیکل ایجنټ له ورکړے شوے دے. د دې نه پس په ذیلي دفعه نمبر ۱ کښې د نامزدې جرګې د فېصلې راتلو باوجود د هغې منظورې یا نامنظورې یا هغه د دوباره رائې ورکولو او جرګې

ته د حواله کولو یا د ټولې کارروايی معطل کولو اختیار هم د پولیټیکل ایجنټ سره دے.

د ایف سي آر د دفعه 21 نه تر دفعه 26 پورې دفعو تعلق د مراعاتو معطلولو، نقل و حرکت باندې پابندي لګولو، اجتماعي ذمه وارو او د مختلفو شکونو په وجه د جرمانو د نفاذ سره دے. دا دفعې پولیټیکل ایجنټ له دا اختیار ورکوي چې د مجرم په ځائے د هغهٔ خپل خپلوان او د کلي کور یا د قوم خلق ګرفتار او قید کړي او جرمانې پرې ولګوي.

د دې قانون د دفعه نمبر 31,32او 33 د لاندې د حجرې، چوک، د نوي کلي جوړول یا ورانول او د چاردیواري دننه د تعمیر کولو اجازت هم د انتظامیې نه اخستل ضروري دي او د انتظامیې د اجازت نه بغیر څوک داسې نهٔ شي کولے. هر څو کهٔ په دې دفعو نن سبا عمل نهٔ شي کولے خو دا د دې قانون دفعې ضرور دي.

د دې قانون د دفعه نمبر 34 د لاندې انتظامیه د شک په بنا یو مکان راغورځولے او ورانولے شي. د هم دې دفعې لاندې قبائلي لښکرې د خلقو کورونه ورانوي چې د هغې په وجه مجرم ته هیڅ نقصان نهٔ رسي بلکې بې ګناه او بې وسه ماشومان او زنانه په تکلیف کښې پرېوځي. دغسې د دفعه 38او 39 لاندې انتظامیه دا حق لري چې بغیر د څهٔ وارنټ نه د شک په بنیاد څوک ګرفتار کړي. د ایف سي آر څلوېښتمه دفعه چې انتظامیه ئې ډېره استعمالوي او د څهٔ په وجه چې زیاتره خلق دا قانون د 40 ایف سي آر په نوم پېژني. دا دفعه د پي پي سي د دفعه 107 په شان ده چې د هغې لاندې د چا نه هم د نېک چال چلند او امن قائمولو ضمانت غوښتلے شي او د ضمانت نهٔ ورکولو په صورت کښې هغه سړے درې کاله قېدولے شي. د حېرانتیا خبره ده چې د دې دفعې لاندې ګرفتار شوو خلقو نه تر هغې ضمانت نهٔ شي غوښتې تر څو چې انتظامیه د هغوي د پرېښودو فېصله ونهٔ کړي. کهٔ ملزم درې کاله قېد تېر کړے وي یا د درېو کالو دپاره دوباره جېل ته لېږلے شوے وي. ځکه چې پولیټیکل ایجنټ سره د کمشنر په منظورۍ د داسې سړي په زور کېس کښې د درېو کالو دپاره جېل ته د لېږلو اختیار شته.

په ایف سي آر کښې قبائلو سره په بعضې جرمونو کښې نرمي هم شوې ده. مثلاً د ایف سي آر لاندې په هیڅ یو جرم کښې د پانسۍ سزا نشته. دغه شان کهٔ یو سړے د پوخ سړک، بازار، سرکاري عمارتونو، دفترونو او کالونیو نه بهر په کلي کښې جرم وکړي نو هغه به د قانون مجرم نهٔ وي.

د کله نه چې وزیر اعظم یوسف رضا ګیلاني د ایف سي آر د ختمولو اعلان کړے دے د هغې ورځې نه د ایف سي آر متعلق د قبائلي خلقو دوه مختلف نقطهٔ نظرونه مخې ته راغلي دي. یوه نقطهٔ نظر خو دا دے چې ایف سي آر دې بېخي ختم کړے شي او د نور ملک عدالتي قانون دې نافذ کړے شي او د پولیس نظام دې شروع کړے شي. دوېمه ډله دا وائي چې د ایف سي آر متنازعه دفعې دې ختمې کړې شي او باقي دې هم دغسې وساتلے شي.

ایف سي آر چې هر څنګه قانون دے خو د یو سل اوو (107)کالو نه په قبائلي علاقو کښې

چلېږي او د قبائلي خلقو په ذهنونو کښې ئې يو مقام نيولے دے. د ايف سي آر د متنازعه دفعو ختمول ډېر ضروري دي ځکه چې دنيا يويشتمې صدئ ته داخله شوې ده او د دې دفعو سره په دې نظام کښې اوسېدل به د قبائلي خلقو دپاره ډېر ګران وي. د ايف سي آر د قانون د ښۀ کولو دپاره ضروري ده چې:

- انتظامي، عدالتي او مالياتي اختيارات دې جدا جدا کړے شي او د پوليټيکل انتظاميې دې باقاعده آډټ کولے شي.
- پوليټيکل پارټيز ايکټ دې فاټا ته هم وغځولے شي چې قبائلي اولس کښې سياسي شعور پيدا شي او د سياسي شعور په بنا د خپل مستقبل فېصلې وکړې شي.
- قبائلي خلقو له دې د پوليټيکل انتظاميې د فېصلو خلاف په اعلي عدالتونو لکه هائي کورټ او سپريم کورټ کښې د اپيل حق ورکړے شي.
- د ايف سي آر د څلوېښتمې دفعې لاندې دې د يو بنده د قېدولو نه اګاهو پوليټيکل انتظاميه پابنده کړې شي چې هغوي لازماً د متعلقه سړي نه ضمانت غواړي. صرف د ضمانت نۀ ورکولو په صورت کښې دې قېدولے شي.
- د شک په بنياد د کورونو ورانولو سلسله دې زر تر زره ختمه کړې شي ځکه چې دې سره زنانه او ماشومان متاثره کېږي.

د دې ترميمونو سره د ايف سي آر نه يو ښۀ قانون جوړېدے شي او کۀ داسې وشي نو د دغې قانون ستم زپلي قبائلي اولس به د سکون ساه واخلي.